
پوهندوی آصف بهاند

# شفیع‌الله صافی

## نوی‌غږ، نوی استعداد

د کونړ د هنرپروره درو د غرونو په لمنو کې راټوکېدلی ګل





شفیع‌الله صافی مشهور په شفیع‌جان د کونړ د هنرپروره درو د غرونو په لمنو کې داسې راټوکېدلی گل دی چې هم په استادانه ډول رباب غږوي او هم خدای داسې خوږ غږ ورکړی دی چې په اورېدوسره یې هراورېدونکی خپله ستړیا هېروي.

شفیع‌جان خپل دواړه هنرونه (رباب غږول او سندرې ویل) داسې په سوریله ډول خپلو لیدونکو او اورېدونکو ته وړاندې کوي، لکه په کلونو ـ کلونو یې چې په یادو دواړو هنرونو کې لوړې زدکړې کړې وي. د ده له ستوني راوتونکی غږ او له هنرمندوگوتو زېږېدونکې نغمې، د هر اورېدونکي ذهن او روح اراموي او قوت و خوند وربښي.

شفیع جان پر خپلو دواړو هنرونو باندې داسې برلاسی دی چې د استادۍ پوړۍ ته یې ځان رسولی دی. زه چې د ده هنري فعالیتونو ته گورم، دې پایلې رسېـږم چې شفیع‌الله صافی د افغانستان د هنرونو نړۍ ته د خدای یوه لورینه چې داسې هنرمند یې پر افغانو باندې لورولی دی، افغانان باید د دې ډالۍ په قدر او ارزشت باندې پوه شي او درنای یې وکړي.

## د شفیع‌الله صافي پېژندنه:

زه له شفیع‌جان سره داسې اشنا شوم:

د لنډیو ټولولو د پروژې د کارونو په ترڅ کې د ورځې په اوږدو کې چې وخت پیدا کړم، نو په ټولنیزه میډیا کې په نویو لنډیو پسې گرځم. نن (۲۰۲۵/۱۰/۱٦) مې د فیسبوک په لنډو ویدیوگانو کې داسې ویدیو ومونده‌له چې ما ته یې د لنډیو خزانه په لاس راکړه، د **«زما هنر ــ zama honar»** نومی ویدیو چینل له ارشیف څخه یوه ویدیو په مخه راغله چې هلته یوځوان د ادم‌خان په څېر رباب غږوي او یو تن منگي ورته وهي او ښې له سوزه ډکې لنډۍ زمزمه کوي. دا رباب غږونکی او سندرغاړی همدا شفیع‌الله صافی دی.

په یاد ویدیو چینل پسې مې لټه پیل کړه، څو مې پیدا کړ او د موسیقۍ، شعرونو او لنډیو یوه ښکلي بڼ سره مخ شوم او ورسره داسې له سوزه ډک غږونه چې ما غوښتل.

په ویدیوگانو کې د شفیع‌جان رباب غږول او سندرې ویل دواړه له نوي او ښکلي هنریت سره مل او له خوندونو ډک دي.

زما تلوسه، د رباب غږونکي سندرو او رباب غږولو نوره هم زیاته کړه، د ده په باب ما هېڅ‌ډول معلومات نه درلودل، نو مې سمدلاسه چټ‌جي‌پي‌تي سره خبرې پیل کړې، هغه له خپلې شته‌منې خورجینې نه معلومات راسره شریک کړل، خبرې مو داسې پیل شوې:

آصف بهاند:

«سلامونه! یویوتیوب چینل دی «زما هنر» نومېږي، که د دې په باب معلومات راکړې.

ChatGPT:

وعلیکم سلامونه!

زه په ژوره توګه نه پوهېږم چې ستاسو د "هنر" نومې یوټیوب چینل په ځانګړې توګه کوم چینل دی — که چېرې نوم دقیق وي، ممکن وموم — خو کولای شم تا سره مرسته وکړم چې څنګه معلومات پیداکړې او...

آصف بهاند:

په دې چینل کې یوتن رباب غږوي او ورسره سندرې وایي، بل تن دوګړې یا منګی غږوي د چینل نوم داسې دی: zama honar

ChatGPT:

«ما یو څه معلومات پیدا کړل چې ښایي د "zama honar / زما هنر" یوټیوب چینل په اړه وي:

موندل شوي معلومات:

- یو چینل شته په نوم Zama Honar چې لاندې لینک لري: " Zama Honar · Nuristan Beautiful province | Afghanistan" YouTube
- د دې چینل ویډیوګانو کې رباب او منګی / مِنګی کارول شوي دي. د مثال په توګه:

- "New Rabab Mangi Song | Mala Bal Waka 2025" ویډیو د دې چینل لخوا خپره شوې ده. YouTube
- "Pashto Rabab Song | Zama Qismat" هم د دې چینل په نوم دی. YouTube

- د ګډونوالو شمېر ښودل شوی چې شاوخوا ۱۸,۹ زره دی.» YouTube

آصف بهاند:

رباب غږونکی چې سندرې هم وايي، دا څه نومېږي؟

ChatGPT:

«ډېره ښه پوښتنه ده!

په چینل Zama Honar کې چې کوم رباب غږوونکی هم سندرې وايي — هغه يو ځانګړی هنرمند دی، او د ویډیوګانو له مخې د هغه نوم نورستاني خالد (Khalid Nuristani) ښودل شوی.

هغه اکثره وخت د يو بل ملګري سره ګډې هنري ناستې کوي، چې هغه په منګی (ډوګره) غږوي. د دواړو يوځای اجراوې ډېر مشهورې دي — په ځانګړي ډول د "Mala Bal Waka" او "Zama Qismat" سندرې.

نو، په لنډه توګه:

د رباب غږوونکي او سندرغاړي نوم: خالد نورستانی (Khalid Nuristani)

د منګی غږوونکي نوم: عموماً د "شاه ولي" يا ورته نومونو لاندې ياد شوی، خو دا لږ تغير کولی شي د ویډیو له مخې.

آصف بهاند:

بیا مې خبره داسې ورسره وغځوله:

زه غواړم چې بیوګرافي يې راته ولیکې.

ChatGPT:

«ما د "خالد نورستاني" په هکله هیڅ معتبره سرچینه ونه موندله چې د هغه بشپړه ژوندلیک یا بایوګرافي وړاندې کړي. ممکن هغه هنرمند محلي شهرت لري او په عامو رسنیو کې نه وي استازی شوی.

خو زه کولای شم هغه څه چې موندلي دي او همدارنګه وړاندیزونه درکړم چې څنګه کیدای شي نور معلومات ترلاسه کړې، راځئ لومړی هغه څه چې موندلي دي:

هغه څه چې مې موندلي دي:

- د Zama Honar یوټیوب چینل کې د رباب او منګۍ ترکیب سره سندرې خپرېږي.
- په ځینو ویډیوګانو کې د "New Rabab Mangi Song | Mala Bal Waka 2025" او "Pashto Rabab Song | Zama Qismat" نومونه لیدل شوي دي.
- چینل داسې ښکاري چې د هنري کارونو لپاره جوړ شوی او ښایي محلي، سیمه‌ییز او فرهنګي اثر ولري.

- تر اوسه مې په انټرنېټ کې کومه رسمي بیوګرافي، راپور یا مصاحبه ونه موندله چې د هغه د ماشومتوب، زده‌کړې، کورنۍ وضعیت یا د هنر پیل تفصیل راښیي.

ولې داسې معلومات نه موندل کېږي؟

- هنرمندان چې شهرت یې محلي یا سیمې پورې محدود وي، کله ناکله په انټرنېټ کې اسناد نه لري.

- ژبني او رسنیزي موانع: ممکن معلومات په پښتو یا د محلي ژبو کې وي او د لویو نړیوالو سرچینو لخوا نه وي راښودل شوي.

- د رسنیو کم پوښښ: که په رسنیو لکه تلویزیون، اخبار یا معتبر ویبپاڼو کې د هغه په اړه لیکنه نه وي شوې، نړیوالو لټونګرانو ته معلومات نه رسیږي...»

د شفیع‌الله صافي په باب د مصنوي‌ځیرکتیا ناسم معلومات دا ښیي چې مخکې تر دې د شفیع‌جان په باب چا څه نه دي لیکلي. د همدې دلیل له مخې چت‌جي‌پي‌ټي ډېر ځلې د نوموړکو کسانو په باب معلومات نه شي وړاندې کولای او یا په تېروتنې سره مورد نظرشخص ته ورته څوک درته معرفي کوي ځکه چې دوی د نورو د معلوماتو په زېرمه‌تونونو تکیه کوي.

بیا هم زه غلی نه شوم خپل لټون مې وغځاوه او د شفیع‌جان له داسې ویدیوګانو سره مخ شوم چې هلته یوازې شفیع‌جان لیکلی و.

د څو نورو ورته ویډیو ګانو په لیدلو سره راته ثابته شوه چې د دې سندرغاړي نوم شفیع‌الله صافي دی. د ده د یوه غږیز کلپ له‌پاره داسې یو انځور جوړ شوی چې د ده عکس او نوم وربانديې لیدل کېږي چې شفیع دی.




شفیع‌جان په غږیز کلپ کې په خپل سحرګر غږ سره داسې یوه سندره زمزمه کوي چې د ده دواړه هنرونه (رباب غږول او سندرې ویل) ښه په کې ځلېدلي دي:

زما اشنا لاچی لونګ دی
نه تور نه غنمرنګ دی
د ګل په رنګ دی

*****

چې ځي پر لاره نو زنګېـږي
عجیبه ښکلی مالومېـږي
نشه، نشه بوټی د بنګ دی
نه تور نه غنمرنګ دی
د ګل په رنګ دی

*****

چې ورته ګوري لړاوبره
جوړه زموږه برابره

زه یمه شمعه یار پتنګ دی
نه تور نه غنمرنګ دی
د ګل په رنګ دی

*****

رفیق صافی د یار په مینه
قربانوي د بدن وینه
د یار په مینه کې ملنګ دی
نه تور نه غنمرنګ دی
د ګل په رنګ دی

زما اشنا لاچی لونګ دی
نه تور نه غنمرنګ دی
د ګل په رنګ دی

https://www.facebook.com/reel/914035844104479

بیا مې د دې سندرغاړي داسې سندره مې هم ولیدله چې دی سندرې وايي او پر سکرین باندې يې نوم «شفیع‌الله صافی» لیکل کېږي:

https://www.facebook.com/reel/1283674722550624




ما به چې د شفیع‌جان هره ویدیو لیدله، د ده د پېژندې له‌پاره مې نوره هم تلوسه ډېرېدله.
وروسته له ډېر لټون څخه مې د یو فرهنګ دوست ملګري ښاغلي عثمان غني حمیدي په مرسته

د ښاغلي شفیع‌الله صافي د وتساپ شمېره پیدا او د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر په اتلسمه نېټه مې خبرې ورسره وکړې. بیا مې د مقالې د لا غنا او رنګینۍ په غرض له ده نه، د ده د زوکړې، نېټه زدکړو، له موسیقي سره اړیکې په باب په تلیفون کې لنډې پوښتنې وکړې او ده هم په ډېر لنډه ډول ځوابونه راکړل، دلته د پښتو موسیقۍ د دې نوي، خو استاد شخصیت د لا پېژندنې له‌پاره، له ده څخه زما د پوښتنو د ځوابونو لنډیز له تاسو درنو لوستونکو سره شریک کړم:

خوږ غږی سندرغاړی او تکړه رباب غږونکی شفیع‌الله صافی، مشهور په شفیع جان اصلاً د کونړولایت د پېچ درې د شوړیک کلي اوسېدونکی دی، خو زوکړه یې د مهاجرت په کلونو کې د پېښور د چارسدې په اتمانزو کلي کې د ۱۹۸۹ م کال د اګست میاشت کې شوې ده، د پلار نوم یې حضرت‌ولي سمندر دی، په دوه‌زرم کال (۲۰۰۰ ام کال) کې بېرته خپل کلي کوړکلي کونړ ته کډه شوي دی، بیا په ۲۰۲۱ اګست کې د جمهوریت له سقوط سره سم بېرته پېښور ته تللي دی.

له بده مرغه د محلي نامساعدو شرایطو په وجه ښوونځی ته نه دی تللی، خو لیک‌لوست یې د یوه وطن پرست شخص په لارښوونه زدکړی دی.

د شفیع‌جان د ژوند په پوړیو کې داسې هم شوي چې دی مزدورۍ ته اړ شوی او کله یې چې د کونړ په ګاونډ ولایت د نورستان د «وامه» ولسوالۍ په «پولس» کلي کې مزدوري کوله، هلته یې خپل رباب هم له ځان سره وړی و، کله ـ کله به یې ترنګاوه او د خپل سترې ژوند دمه به یې له رباب سره وه. په دې وخت کې د خدای کوم دوست چې ډاکتر عبدالقیوم نومیده او په نورستان کې یې کوچنیانو ته کتابونه، قلمونه او کتابچې ویشلې، شفیع جان یې له رباب سره لیدلی او د استادانه، وطني او انساني مینې له مخې یې ورته ویلي دي چې که غواړې چې رباب‌غږول زده‌کړې او ورسره سندرې هم ووایې، نو د دې کار اساسي او بنسټیز شرط د لیک‌لوست زده‌کول دي؛ نو هم‌هغلته شفیع‌جان یاد ډاکتر ته ګونډه وهلې، هغه کتاب، قلم او کتابچه ورکړې او شفیع‌جان د مزدورۍ تر څنګه دومره لیک لوست زده کړی چې اوس هرڅه لوستلی او لیکلی شي. شفیع‌جان واده کړی دی او د دوولوښو او دوو زامنو پلار دی.

## شفیع‌جان، موسیقي او سندرې‌ویل:

ښاغلی شفیع‌الله صافی په پیل کې سندرې ویل شروع کړي دي او وروسته یې رباب غږول د خپل ځانګړي شوق له مخې شروع کړی دی. د رباب غږولو او سندرې ویلو په برخه کې یې هم تاکلي مکتبي زده‌کړې نه‌دي کړې. دی خپله وایي چې په پېښور کې مې له ناصر استاد څخه

رباب غږول زدکه‌کړل. کله مې چې د سندرو ویلو د څرنګوالي په باب وپوښته، نو راته وې‌ویل چې:

«په وړوکوالي کې مې د نواب استاد او سیدمحمد استاد غږونه خوښېدل او سندرې به مې یې اورېدې، ځکه د سندرو ویلو شوق راته پیدا شو او دا دې څه د پاسه پنځه‌لس کاله کېږي چې رباب غږوم او ورسره سندرې هم وایم.»

کله چې ما پوښتنه ځینې وکړه چې:

«له رباب نه پرته د موسیقۍ کومه بله اله غږولی شې؟»

ده په ځواب کې راته وویل:

«اوس مې ارمونیم پیل کړی دی، خو ترحسابي بریده نه‌یم رسېدلی او غواړم چې د زدکړې له‌پاره یې کوم استاد ته ګونډه ووهم.»

د پاکستان او افغانستان اوسنیو کړکېچنو حالاتو او روابطو ته چې ولیدل شي، د دې احتمال هم شته چې شفیع‌الله بېرته افغانستان ته ستون کړای شي، خدای مه‌کړه که دا کار وشي، د شفیع‌جان د هنرونو چینه وچه وګنئ. دی خپله هم وایي چې:

«ما ته پته ده، چې په اوسنیو شرایطو کې که زه افغانستان ته لاړ شم، زما هنر مړ دی او بیا به د روزي پیدا کولو له پاره چېرې مزدورۍ ته درېږم.»

د خوشحالۍ خبره خو دا ده چې په کورنۍ کې دننه د ده له سندرې ویلو او رباب‌غږولو سره څوک مخالفت نه لري او دی له پیل نه ترنن پورې خپل هنري فعالیتونه پرته له کوم خنډ نه پرمخ بیایي.

د شفیع‌الله صافی بیوګرافي د لیکلو په وخت کې ناڅاپه د ښاغلي ولي‌الله ملکزي کتاب (کونړ، غرونه غورځنګونه) راپه‌یاد شو، ما ویل چې ښایي ښاغلي ملکزي به د کونړ موسیقۍ ته یو باب ځانګړی کړی وي او د کونړ د موسیقۍ او سازیانو په هکله به یې د پاملرنې وړ معلومات خپلو مخاطبینو ته وړاندې کړی وي؛ خو کله مې چې یاد اثر پرانست، ومې لیدل چې ملکزي د کونړ د موسیقۍ او سازیانو حق نه‌دی وراداکړی. د خپل کتاب په ۳۵۴ ام مخ کې د «موسیقي او سندریز هنرونه» (ملکزی، ولي‌الله، کونړ، غرونه غورځنګونه، هاشمي خپرندویه ټولنه/ جلاباد، ۱۴۰۰ ام ل/ ۲۰۲۱ م کال، ۳۵۴ ـ ۳۵٦مخونه)

ترسرلیک لاندې یوازې یو پروګراف بحث کړی دی او وروسته تر هغه یې په لنډ ډول د دووسندرغاړو(ګناربېګم، ګلاجان استاد) په باب ډېر لنډ معلومات لیکلی دی. زما تمه دا وه چې د نورو مطرح سازیانو په څنګ کې به د شفیع‌الله ساپي په باب هم څه معلومات وړاندې شوی وي، خو هلته مې هیڅ هم ونه‌لیدل.

د افغانستان په موسیقي کې، د مشرقي د موسیقي مکتب ځان‌ته ځانګړی‌دریځ او خصوصیات لري. ښاغلی شفیع‌الله د دې ښوونځی له استازو یو استازی دی. ده د موسیقۍ په دې ښوونځي کې ځان‌ته داسې ځای او لار پرانستې ده چې ښایي بل چا به دا کار نه‌وي کړی. دی له رباب سره داسې په مینه او خوند سندرې وایي چې بېلګه یې تراوسه نه ده لیدل شوې، د همدې دلایلو له مخې شفیع‌جان، لا په ځوانۍ کې د افغانستان د موسیقۍ او بیا په ځانګړي ډول د مشرقي موسیقۍ حق ورادا کړی دی او نورخدمتونه به هم وکړي.

شفیع‌الله صافی د موسیقي په بن کې د یو خودرویه صحرایي ګل په څېر خپله غاړه هسکه کړې، په خپله یې ځان اوبه کړی، خپله یې ځان پاللی دی او دا دی اوس د یو بې‌جوړې مستانه رباب‌غږونکي په توګه داسې سندرې وایي چې نه پخوا تر ده داسې څوک و او نه اوس کوم‌څوک شته چې سیالي ورسره وکړي.

**په یوتیوب کې د «زما هنر ــ zama honar» په نامه د شفیع‌جان چینل:**

شفیع‌الله صافی په یوتیوب کې ځان‌ته د «زما هنر ــ zama honar» په نامه یو چینل جوړ کړی دی چې د ده څه کم درې‌سوه ویدیو کلیپونه په کې خوندي دي. دی خپله د دې چینل په باب داسې وایي:

«په پېښور کې ملګرو راته ووې چې په یوتیوب کې یوځای جوړ کړه چې د سندرو پته دې مالومه وي او بیا همدې ملګرو راته جوړکړ:







اوس مې دومره زده‌شوي دي، چې خپلې سندرې، زه په خپله په یوتیوب کې پورته کوم.»

دا چینلونه او داسې هنري پرګرامونه دې ډېر شي چې له یوې خوا په افغانستان کې چې پر موسیقۍ باندې د بندیز لګولو سره ـ سره دوی د غرورغو په لمنو کې د خلکو د خوشالۍ له‌پاره د موسیقي ښکلې پروګرامونه جوړوي او له بلې خوا د همدې موسیقي او سندرو له لارې کېدای شي پښتوموسِیقۍ او پښتو ژبې عامول په ښه وجه ترسره شي. دغه‌راز د ژبې او فرهنګ د ژوندي ساتلو تر ټولو ښه او اسانه طریقه هم ده. د شفیع‌الله صافي د یوتیوب چینل لینک دا دې، که څوک یې د ویدیوګانو او سندرو د لیدلو او اورېلو هیله لري کولای شي په یو کلیک سره ورننوزي او د شفیع‌جان په هنري بڼ کې چکر ووهي:

https://www.youtube.com/channel/UCBwEqpVjopY7gJjZmfmdpkA

شاغلی شفیع‌الله د خلکو د خوښیو په محافلو کې ګډون کوي او د همدې عاید په ترلاسه کولو سره په پېښور کې خپل روزګار چلوي.

په «زما هنر» ویدیوچینل کې تل له رباب سره منګی او یا دوګړې وي او په عجب خواږه غږ او اندازه سره ښکلي شعرونه او اګثراً لنډۍ زمزمه کوي. ما د ده له خولې نه ډېرې لنډۍ اورېدلې او هغه یې چې راته نوې وې خوندې کړې مې دي چې د نویو لنډیو په باب به یې جلا مقاله ولیکم.

د دې پاسني ویدیو چینل لینک په یوتیوب کې دا دی:

د پښتو موسیقۍ په دې ویدیوچینل کې تر اوسه (۲۰۲۵/۱۰/۱٦) څه کم درې‌سوه ویدیوګانې اېښودل شوې دي. په لاندې لینک کې یې یوه ښکلې بېلګه خوندي ده.

https://www.facebook.com/reel/1269134864202179

داسې هم شوي چې په يوه وچ کنډکپر ډاګ کې يو فرش ورته اچول شوی او دې بې کبره او بې څه‌ويلو ورباندې ناست دی، مست رباب وهي او په خوند سندرې وايي:

https://www.facebook.com/reel/738208167231880

د دې هنرمن له سندرو څخه مې ډېرې لنډۍ اورېدلې دي چې په جلا مقاله کې به مفصلې خبرې پرې وکړم، خو دلته به هم د څو بېلګو په وړاندې کولو سره يوه لنډۍ اشاره ورته وکړم:

د ده له بېلابېلو ويډيوګانو څخه ما دا لنډۍ راخوندي کړې دي:

**که د ځوانۍ زکات وباسې**
**د سوال لاسونه مې کولاو نيولي دينه**

**چې ما ويلی، تا منلی**
**تا به د دغې يارۍ خوند ليدلی ونه**

**زما دا زړه له تا نه تور شو**
**په لندکميس باندې دې پورې شه اورونه**

**ازارګټلې ښځې زويه**
**په مادې خپله نيا دلاله کړې مينه**

**ازاروه‌مې‌مه جانانه**
**څوک به دې خوښ شي، بيا به تا ازاروينه**

**د ليونې جانان خاطر دی**
**ځکه د ټول کلي منګي راټکومه**

**ته ليونی، زه ليونۍ يم**
**چې ليوني سره يوځای شي خوند کوينه**

**لونی نه يمه، نور څه يم**
**ته مې وهې، زه درته شين له خندا شمه**

**که چېرته لمر تادي ونه‌کړه**
**ګمان مې کېږي چې به وشي دیدنونه**

د پاسنيو نه لنډيو لينک دا دی:

https://www.facebook.com/reel/736616207371466

**که سړی ځان ورته حلال کړي**
**نه مالومېږي معشوقو ته خدمتونه**

**تبې راواخلئ مخ مې تور کړئ**
**د پښتون لور وم، په هيجرا مينه شومه**

**چې يارانه ساتلی نه‌شې**
**د بختورې لورې ولې دې خالونه**

**ياري دې وکړه رانه لاړې**
**لکه مرغۍ چې ځاله جوړه کړي، ترې‌ځينه**

د پاسنيو لنډيولينک دا دی:
https://www.facebook.com/reel/2277971729235876

په يوه بله ويديو کې د دې مشهور «سر»:

**په انتظار ولاړه يم، سرې مې منګولې دي**
**ته به خوست‌ته کله راځې، پخې سنځلې دي**

په ملتيا ځو د خوند لنډۍ زمزمه کوي، دا يې ځو نوې بېلګې دي:

**ما د ګورګورو خوند ليدلی**
**زه په انارو يارانه کله کومه**

## ځیر به زما لارو ته ګورې
## ما به توبه ستا له یارۍ ایستلېوینه

د دې لنډیو لینک دا دی:

https://www.facebook.com/reel/860672941801306

د ښاغلي شفیع‌الله د سندرو ویلو او رباب غږولو د هنرونو په بحر کې کله داسې کلپونه هم په‌مخه راغلل چې ده ژوندۍ مجرا نه ده کړې او دې ته اړ ایستل شوی چې یوه سندره د لیبسنګ په بڼه اجرا کړي چې یو څه پیکه او بې‌خونده ده داسې چې د ده له اصلي هنر سره ډېر واټن لري. داسې ښکاري چې بل چا به داسې یوه ویدیوکلپ ثبتولو ته اړکړی وي. دا لاندې یې لینک دی:

https://www.facebook.com/reel/510605453973833

شفیع‌جان ډېرځلې له ځینو نورو سندرغاړو سره غبرګې سندرې هم ویلي دي، دا یې د بېلګې له‌پاره د څو بېلګو لینکونه دي:

https://www.facebook.com/reel/485378836537277

https://www.facebook.com/reel/540269707532334

https://www.facebook.com/reel/679342657104313

https://www.facebook.com/reel/914035844104479

https://www.facebook.com/reel/699087989093564

https://www.facebook.com/reel/639138440668110

شفیع‌جان که خپلې سندرې ویلي دي. که فولکلوریکې سندرې اجرا کړې دي، که یې د بل چا بیاځلي زمزمه کړې دي؛ ډېرې یې ښې او په تول‌تللې یې ویلې دي.

ښایي د تنوغ او لا جذابیت له‌پاره دې سندرغاړي هرچېرې سندرې ثبت کړې دي: د سین له غاړې، د ځنګله په منځ کې، په کور کې، پر ستیژ باندې، په ستدیو کې... او حتی په یوه وړه بېړۍ یا کښتۍ کې. دا یې په کښتۍ کې د ثبت کړې سندرې لینک دی:

https://www.facebook.com/reel/886747959008104

ما داسې فکر کاوه چې ښاغلی شفیع‌الله یوازې یو هنر لري، خو د خپلو څېړنو په لړ کې په دې پوه شوم چې دی د رباب غږولو ترڅنګ، د موسیقي د نورو الات د غږولو شوق هم لري، ما یې داسې ویډیوګانې ولیدلې چې ارمونیم ته ناست دی او سندرې هم وايي، دا یې د ارمونیم سره د یوې سندرې لینک دی:

https://www.facebook.com/reel/1177914650117882

شفیع‌جان ماته د ارومونیم غږولو په باب ویلي وو چې:

«اوس مې ارمونیم پیل کړی دی، خو ترحسابي بریده نه‌یم رسېدلی او غواړم چې د زدکړې له‌پاره یې کوم استاد ته ګونډه ووهم.»

کله داسې هم شوي چې شاغلي شفیع ته د رباب بادشاه خطاب هم شوی دی:

https://www.facebook.com/reel/27310255085255366

که د ده رباب غږول په د زړه په غوږونو واورولی شي او د موسیقي هنر په زرینه تله وتلل شي، دی په ریښتیا هم د رباب غږولو یو ماهر استاد دی او باید د رباب بادشاه لقب ورته ورکړل شي.

د ښاغلي شفیع سندرې په کابل کې له شمشاد تلویزیون او ژوندون او تلویزیون څخه خپرې شوې دي او کله، کله یې د یادو تلویزیونونو په ژوندیو پروګرامونو کې ګډون کړی دی.

https://www.facebook.com/reel/663473504808507

د ښاغلی شفیع‌الله په دوو ویډیو ګانو کې د پاکستان بیرغ هم تر سترګو کېږي. په یوه ویډیو کې د نندارچیانو تر شا بیرغ ټومبل شوی او بله ویډیو کې د ارمونیم پر ډېډه د عمران خان له عکس سره بیرغ لیدل کېږي. زه یې په وجه پوه نه شوم؟

https://www.facebook.com/reel/1054344006373063

دا لاندې لینک کې هم ډېره ښه سندره ده، خو افسوس چې د ناستو کسانو تر شا د پاکستان بیرغ رپېږي.

https://www.facebook.com/reel/1170426610568216

شفیع‌الله صافی داسې ځوان استعداد وو چې د فقر او قیوداتو په چاپیریال کې په تش‌لاس د موسیقۍ په دایره کې قدم کېښود، د خپل خدای‌ورکړي استعداد په مرسته او په خپلې خوارۍ یې له ځان څخه د رباب غږولو او سندرو ویلو بېجوړې استاد جوړ کړ او د پښتو موسیقۍ په یو کړکیچن حالت کې خدای له شفیع‌الله نه داسې استاد جوړ کړ چې دا موسیقی یې تر اوسه ژوندۍ ساتلې او د همدې موسیقۍ او سندرویلو د هنر له لارې یې پښتو ژبه تر هر هېواد، ترهرښاره، تر هرې حجرې او تر هرمجلس پورې رسولې ده.

**شفیع‌الله صافي ته په خپل هنر او شخصي ژوند کې**

**د نورو بریاوو هیله کوم!**

**www.af.dawatmedia24.com**